


# هندوستان پرېږدئ

په تېر پسې

پښتونخوا کښې هر یو صحیح قام پرست ته ښه په ډاګه دا احساس دے چې هندوستان کښې د برطانیې د حکومت سره او د عهدو سره زمونږ هیڅ کار نشته. نور هندوستان کښې کۀ چېرته پارلیماني پروګرام کښې د خلقو څه کشش وي د هغې سره زمونږ هیڅ کار نشته.

کلو کښې د اندروني سلامتیا او خلق او په تېره تېره ناداره کسان د خوراک او لباس په مد کښې په کور پوره کولو په بابله د خان عبدالغفار خان پرامنه او تعمیري پروګرام دې خلقو کښې نو زیات مقبول کړے دے. دے کوشش کوي او امېد لري چې د امن او روغ نیتۍ خپل پېغام د صوبې ګاونډي قبائیلي علاقو خلقو ته هم ورسوي. دے خپل ټول توان صلاحیت یو داسې غیر متشدده او پرامنه فوځ تیارولو ته ډېر کړے دے چې هغه په راتلونکي مشکل وخت کښې د خلقو ښه خدمت وکړے شي. کوم کار چې حکومت په کروړونو روپو لګولو نشي کولے دے هغه کار به د خلقو په رضاکارانه مرسته ملګرتیا سره د کولو کوشش کوي. دې صوبه کښې په دې عظیم کار کولو سره د ټولو نرانو او زنانؤ او ماشومانو د همدردۍ او مرستې ملګرتیا صحیح حقدار دے. مونږ هیله لرو چې د پښتونخوا اولس به د دې په وینا عمل کوي او د هندوستان پریس او هغه صحافیان چې په زړۀ کښې د قام درد لري به د دۀ په کار کښې د زړۀ د اخلاصه دلچسپي واخلي.

دۀ ووې چې د باچاخان شهرت چې په کومو بنیادونو اړه لري هغه د کانګرس د صوبائي کمیټۍ د قراراد نه ډېر زیات مضبوط دے. د دۀ دا مقبولیت د پېنځویشو کالو نه د زیاتې مودې پورې د اولس د زړۀ د اخلاصه خدمت په وجه دے او د دې خدمت سره د خلقو په زړونو کښې دۀ سره مینه ده. د مفاد پرستو د مخالفې پروپېګنډې باوجود تراوسه پورې دۀ د هر مشکل مقابله کړې ده. او په دې کښې کامیاب شوے دے. او په دې کښې هیڅ شک او شبه نشته چې کۀ راتلونکي وخت کښې څه امتحان راشي نو دے به په هغې کښې د پښتنو یو مضبوط ترین مشر په حیثیت

کامیابه شي.

کله چې د جاپان فوځ برما ته راورسېدو نو د عبدالغفار خان سره دا فکر پېدا شو چې ډېر زر هندوستان ته راورسي. دۀ ووې چې زمونږ سره فکر دے چې قبائیلي اولس به په داسې حال کښې څه کوي. مونږ غواړو چې په وطن کښې ټول یو موټے شي او قبائیلي علاقو ته جرګې ولېږو. دۀ ووې ما د صوبې ګورنر سر چارج کنهنګم ته یوه چیټۍ ولېږله چې زمونږ جرګو ته قبائیلي سیمو ته د تلو اجازت ورکړي چې د قبائیلي اولس سره د قامي سلامتیا په دې معامله خبرې اترې وکړي. ګورنر په دې روایتي پالیسۍ چې قبائیلي سیمو ته به چاته د تعلیمي اولسي کارونو دپاره هم د تلو اجازت نۀ وي عمل کولو سره زما خواست رد کړو. مونږ خپله جرګه را وغوښته چې او فېصله مو وکړه چې د ملک د دفاع د اهمیت په وجه به قبائیلي سیمو ته جرګې لېږو. د ایجنسو پولټیکل ایجنټانو ته دا هدایت ورکړے شوے ؤ چې زمونږ جرګې چې قبائیلي سیمو ته داخلېږي نو پولټیکل ایجنټ به د دوي سره معامله کوي.

اپریدو ته زمونږ جرګه د څه مشکلاتو نه بغېر ورسېده. ولې باجوړ کښې زمونږ جرګې ته څه مشکلات پېښ شول ولې اخر دا دغلته په تلو کښې کامیابه شوه او خپل کار ئې شروع کړو.

په جولائي کښې خان عبدالغفارخان دا اشاره وکړه چې کۀ زمونږ د تعمیري کار کولو په لاره کښې خنډ پېدا کړے شو نو مونږ به د حکومت مخالفت کوو. مونږ چې څه کوو هغه ښه په ډاګه کوو او په دې کښې هیڅ پټ پناه نشته. د کله نه چې جنګ شروع شوے دے زمونږ ټول پام کلو کښې پرامنه او انساني ښېګړې کارونو ته دے مونږ خلقو ته وایو چې راتلونکو سختو ورځو کښې په هر قیمت د اندروني سلامتیا بندوبس کوئ او د ژوند د ټولو ضروري شیانو او خوراک ځانونه په کور پوره ساتئ ولې داسې ښکاري چې حکومت مونږ دې اهم کار ته نۀ پرېږدي او زمونږ ځیني کارکنان بندي کړے شوي دي. د دنیا هیڅ یو طاقت مونږ په دې سخت وخت کښې د خلقو د خدمت کولو نه نۀ شي منع کولے.

زۀ دا خبره په جار وایم چې مونږه د خپل پروګرام وړاندې بوتلو کلکه اراده کړې ده او په هیڅ حالت کښې به د خپل غیر متشدده پرامنه کار نه نۀ په شا کېږو. او کۀ مونږ څه ګام پورته کوو نو دا به د مجبورئ په حالت کښې پورته کوو. د پېښور نه څوارلس میله لرې سردریاب کښې د وښو په جونګړه کښې د خدائي خدمتګارو مرکز، مرکز عالیه قایم کړے شو.

په جولائي کښې د کانګرس د کارنده کمیټۍ غونډه وارده کښې وشوه. په پینځمه جولائي ګاندهي د کانګرس مشر مولانا آزاد سره د هندوستان پرېږدئ په تحریک خبره وکړه. دۀ په دې خبره زور ورکړو چې اوس وخت راغلے دے چې

کانګرس دا مطالبه وکړي چې برطانیه دې د هندوستان نه اوځي. دا به د تېر وخت د مطالبو په شکل کښې نۀ وي او دا به یو قسمه بغاوت وي. او خلق به د ګرفتارۍ مزاحمت کوي او هله به حکومت ته ځان حواله کوي چې د طاقت استعمال کېږي. په دې ښه په آزاده آزادۍ بحث وشو او کال ۱۹۴۲ء په څوارلسمه جولائي دا تاریخي قرارداد ګاندهي د مسودې په بنیاد منظور کړے شو.

څه چې روزانه کېږي او د هندوستان خلق چې د کمو تجربو نه تېرېږي دا د کانګرس د دې رائې تصدیق کوي چې فوري طور په هندوستان د برطانيې حکومت ختمېدل پکار دي. د جنګ شروع کېدو راهسې کانګرس د حکومت دپاره مشکلات نۀ پېدا کولو په پالیسۍ عمل کوو او تر دې چې د خپل عدم تشدد دپاره ئې په دې امېد خطره پېدا کړه چې د حکومت نۀ تنګولو دا پالیسي به خپل منطقي انجام ته ورسي او حکومت به د دې ستائینه وکړي او حقیقي اختیارات به د خلقو نمائندګانو ته وسپاري چې دا شان دوي ټوله نړۍ کښې د انساني آزادۍ دپاره کار وکړے شي کومې ته چې دا وخت خطره پېښه ده. دا هم امېد ؤ چې حکومت به داسې څه کار نۀ کوي چې په هندوستان خپله قبضه نوره مضبوطه کړي.

بهرحال دا ټول امېدونه تالا ترغه شول. د کرپس تجویزونو نه دا خبره څرګنده شوه چې د برطانيې حکومت د هندوستان په حواله خپلې پالیسۍ کښې هیڅ بدلون نۀ راولي او په هندوستان خپله قبضه کښې څه قسمه نرمي نۀ راولي. د دې نا امېدۍ سره د برطانوي سرکار خلاف د خلقو کرکه سېوا شوه او د جاپان په کامیابو د خلقو تسلي او خوشحالي زیاته شوه. د کانګرس کارنده کمیتۍ دې حالاتو ته د فکرمندۍ په نظر ګوري او کۀ د دې مخنیوے ونۀ شو نو دا ویره ده چې خلق به په غیر متحرکه طریقه زورګیري ومني. د دې زورګیرۍ په هر قیمت مزاحمت پکار دے ځکه چې د دې منل به د هندوستان خلق ډېرې پستۍ ته بوځي او د دوي غلام پاتې کېدل به دغه شان جاري پاتې شي. کانګرس د زړۀ د اخلاصه غواړي چې په هندوستان کښې د ملایا،سنګاپور او برما د تجربو نه ډډه وکړے شي او جاپان یا بل ملک په هندوستان د حملې او زورګیرۍ د مخې وهلو دپاره ښه مضبوط مزاحمت بندوبس وکړي.

کانګرس غواړي چې د برطانيې خلاف دا بدنیتي په نیک نیتۍ کښې بدله شي او د ټولې نړۍ د خلقو او قامونو دپاره د آزادۍ ګټلو په کار کښې د برطانيې د حکومت شراکت دار جوړ شي او د ازمېښت په دې سخت وخت کښې ورسره لاس وکړي. خو دا هله کېدے شي چې هندوستان ته آزادي ورکړے شي.

دا بې یقیني هله په یقین کښې بدلیدے شي چې په هندوستان خارجه قبضه او په ملک کښې خارجه مداخلت ختم شي او د هندوستان ټول ګوندونه او پارټۍ یو ځائې کښېني او خپلې مسئلې هوارې کړي. موجوده سیاسي پارټۍ بنیادي طور د دې دپاره جوړې کړے شوې دي چې د برطانوي حکومت پام ځان ته را وګرځوي او د برطانیې د وتو سره امکان دے چې دا فعالې پاتې نۀ شي.

د هندوستان په تاریخ کښې په رومبي ځل به په خلقو کښې دا احساس پیدا شي چې د ریاستونو حکمرانان،جاګیرداران،زمینداران، د مال جائیداد خاوندان خپل جائیداد او مال د هغه کسانو په محنت راجمع کوي څوک چې په پټو او کارخانو کښې کار کوي او د هغوي په لاس کښې حقیقي اختیار پکار دے. د کانګرس دا مخلصانه خواهش دے چې د عوامو د طاقت په زور ښه په اتفاق او اتحاد د زورګیرئ مزاحمت وکړي. د هندوستان نه د برطانیې د وتو د تجویز په شا د کانګرس داسې هیڅ قسمه اراده او خیال نشته چې په دې سخت وخت کښې د برطانیې او اتحادي قوتونو دپاره مشکلات پیدا کړي او یا په هندوستان د جاپان د طرفه د زورګیرئ او په چین د جاپان د دباؤ ډاډګیرنه وکړي. او نۀ کانګرس غواړي چې د اتحادي قوتونو فوځې او دفاعي توان ته نقصان ورسوي. په دې وجه کانګرس دې ته تیار دے چې اتحادي فوځونه هندوستان کښې موجود پاتې شي چې د جاپان مقابله وکړي او د چین په حفاظت کولو کښې لاس وکړي.

د هندوستان نه د برطانیې د وتو د تجویز مقصد هیڅ کله دا نۀ دے چې د هندوستان نه دې ټول انګریزان وځي. د برطانیې کوم کسان چې په هندوستان کښې وسي او د هندوستان شهریت ئې اخستے دے هغه د نورو هندوستانیانو سره یو برابر حق لري. کۀ د کانګرس دا خواست منظور نۀ کړے شو نو کانګرس به مخ زیاتېدونکو خرابو حالاتو د فکرمندئ نه او د زورګیرئ د مزاحمت کولو په حواله د ارادي کمزورې کېدو بې غوره نۀ شي پاتې کېدے او مونږ به په دې مجبور شو چې د کال ۱۹۲۰ نه را په دې خوا چې مونږ د خپلو سیاسي حقونو ګټلو دپاره د عدم تشدد د پالیسۍ په ذریعه کوم طاقت ترلاسه کړے دے هغه په کار راولو.

کله چې د کارنده کمیټۍ دا قرارداد شائع شو نو دې سره ملک کښې یو هنګامه پیدا شوه. خان عبدالغفار خان د کانګرس صوبائي کمیټۍ ته خپل تقریر کښې خلقو ته د هندوستان د آزادۍ په غرض راتلونکو ورځو کښې شروع کېدونکي نوي تحریک ته د تیارۍ کولو غږ وکړو او وې وئیل چې تاسو په دې بابله د مهاتما ګاندهي غږ ته تیار وسئ کوم چې د قرارداد د کانګرس د توثیق نه پس څه وخت هم متوقع دے.

زۀ امېد لرم چې پښتونخوا صوبه به په دې هلو ځلو د پخوا په شان په رومبني صف کښې وي.

د کارنده کمېټۍ غونډه په پينځم اګست بمبئ کښې وشوه او د واردها د منظور کړے شوي قرارداد مطابق ئې د قرارداد مسوده په اوم اګست د ټول هندوستان کانګرس کمېټۍ ته د منظورئ دپاره وړاندې کړه.

ګاندهي د کمېټۍ غړو ته په خپل تقرير کښې ووې چې دا شان موقعې د يو کس په ژوند کښې ډېرې کمې راځي. نن زما او زما د عدم تشدد امتحان دے. کۀ چرې په دې وخت چې خلق د جنګ په لمبو کښې سوځي او د دې نه د بچ کېدو چغې وهي کۀ زۀ د هغه صلاحيت نه په کار اخستو کښې پاتې راغلم کوم چې الله پاک ماته راکړے دے نو خدائے پاک به ما معاف نۀ کړي. او زۀ به د دې نعمت د شکر جوګه پاتې نۀ شم. په دې وجه ماته ضرور کار کول پکار دي.

دۀ ووې چې زۀ په دې خبره يقين لرم چې د نړۍ په تاريخ کښې به په صحيح معنو کښې زمونږ د تحريک نه زيات بل جمهوري جدوجهد نۀ وي. زما چې د جمهوريت کوم تصور دے هغه دا دے چې جمهوريت د عدم تشدد په ذريعه راځي او د ټولو دپاره پکښې يو برابر حقونه وي. هر يو کس به په خپله د خپل ځان واک اختيار لري. نن زۀ تاسو ته بلنه درکوم چې د داسې جمهوريت راوستو په تحريک کښې شامل شئ. تاسو ته به دا احساس کول وي چې د هندوانو او مسلمانانو اختلافات به شاته کولے شي او تاسو ته به ځان صرف او صرف هندوستانيان جوړېدل وي چې د آزادۍ په شريکه مبارزه کښې به په شريکه برخه اخلئ.

د يو څو کميونسټانو نه علاوه د ټول هندوستان د کانګرس کمېټۍ ټولو غړو د قرارداد هرکلے وکړو او د دوه ورځو د بحث نه پس هندوستان پرېږدئ قرارداد منظور کړے شو. ګاندهي د کانګرس مرکزي کمېټۍ ته دوه ګېنټې په انګريزئ او هندوستانۍ ژبو کښې تقرير وکړو او ټولو ته ئې د دوي په حوصله مبارکي ورکړه. او وې وئيل چې کمېټۍ چې څه شي دپاره وېنا کړې ده دا د حالاتو صحيح نمائندګي نۀ ده. داسې وخت ؤ چې مسلمانانو به د ټول هندوستان د ملکيت دعوه کوله. دا د دوي باعزته او زړۀ پورې جذبه وه چې په دغه ورځو کښې ئې په مونږ اثر کړے ؤ.

ټولې فرقې د يو بل سره ښه په روغه سازه وسېدې او د يو بل د مذهب او دهرم احترام ئې کولو. زۀ سره د قائداعظم جناح ټولو فرقو ته خواست کوم چې دغه شاندار دور را ياد کړي او هغه وجوهات معلوم کړي د کومو په وجه چې مونږ دې موجوده مشکلاتو سره مخ شوي يو. قائداعظم جناح هم په يو وخت کښې د کانګرس غړے ؤ. کۀ

نـن دے د کانګرس نه خفه دے دا د دۀ په زړۀ کښې يو قسم شک پېدا شوے دے. خدائے پاک دې دۀ له ډېر عمر ورکړي چې زۀ دۀ ته ورشم دے به په خپله دا احسـاس وکړي چې زمـونږ د مسـلمانانو خلاف هيڅ قسمه بدنيتي نشته او ما چرې هم مسلمانان نۀ دي نـا امېـده کړي. کـوم کسـان چې د کانګرس خـلاف د لـعـن طـعن مهم چلوي زۀ به هغوي ته دا ووايـم چې اسـلام بـه د دشـمـنانو هم لعن طعن نۀ کـوي. پېـغـمبـر اسلام به د دشمنانو سره هم مينه کـولـه او کـوشش به ئې کولو چې په رحم کولو او سـخـاوت کـولـو د دوي زړونـه خپل کړي. تاسو د دغـه اسـلام پيـروکـار يـئ او کۀ ستاسو بل اسلام دے. کۀ تـاسـو پـه صحيح اسلام يقين لرئ نو بيا تـاسـو ولې د هغه چا په خبره يقين کوئ څوک چې په ډاګه د خپلې عقيدې او نظريې اعلان کوي. يوه ورځ بـه تاسو په دې خبره پښېمانه شئ چې تاسو د خپـل يـو دوسـت پـه خبره يقين نۀ کوو او په هغه بـداعتـمـاده وئ او پـه دې وجه مو هغه مړ کړو. دا خبره ما وژني چې زۀ څومره زيات دوئ ته خواست کوم دوي د مولانا آزاد خلاف خبرې کوي او د لعن طـعـن او بـدنـامولو مهم نور تيزوي. دا لعن طعن داسې دے چې مـا څـوک په ګولئ ولي. دوي ما په ګـولـۍ ويشتے او وژلے شي او دې سره زۀ دومره نۀ خـفـه کېږم څـومـره چې په کنځلو او لعن طعن په پـروپېګـنډه خـفــه کېږم. دوي اسلام بدناموي. د اسـلام سپـېځلے نوم په غلطه استعمالوي. زۀ دوي ته سوال کوم چې د لعن طعن او کنځلو وئيلو د دې مهم نه لاس په سر شي.

مـولانا صېب د دې لعن طعن او کنځلو په خصوصي توګه ښکار دے او دا ځکه چې دے په ما د خپـلـې دوسـتـۍ دبـاؤ نۀ اچوي. دۀ ته د دې خبرې احســـاس دے چې دا خبـــره صـحيـح نۀ ده چې د دوستـۍ په وجه څوک په دې مجبور کړي چې يوې غـلـطې خبـرې تـه ښـه ووائـي او هغه د يوې ښې خبـرې پـه حيثيـت ومـنـي.زۀ بـه قائداعظم ته دا ووايـم چې تاسو چې د پاکستان په شکل کښې څه غواړئ هغه ستاسو د ورانديې نه په لاسو کښې دي او څـه چې نـامـنـاسبه او غلط دي هغه هيڅ څوک تـاسو ته نۀ شي ډالۍ کولے. زۀ تاسو ته د اسلام په نوم خواست کوم چې زما په خبره سوچ وکړئ او دا غـوښتـنــه مـنـاسـب نۀ ده چې کـانګـرس دې هم نـامـناسب خبرې منلو ته غاړه کېږدي کومه چې د دوي د بنيادي اصولو خلاف وي. کۀ دا مطالبه حقه وے نو ما به نن منلې وه. دا زما اصول نۀ دي چې د جناح خوشحالولو دپاره غلطه خبره ومنم.

(نور بيا)